# رسول الله صلى الله علیه وسلم مونږ ته د حاجت خطبه راښودلې ده

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله علیه وسلم مونږ ته د حاجت خطبه راښودلې ده(او هغه داسې ده): حمد او ثنا الله لره ده، مونږ له هغه څخه مرسته او ښښنه غواړو، په هغه د خپلو ځانونو له شر څخه پناه غواړو، چاته چې الله هدایت وکړي د هغه لپاره ګمراه کوونکی نشته، او څوک چې ګمراه کړي هغه لره هدایت کوونکی نشته او زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل حق مبعود نشته او دا چې محمد صلى الله علیه وسلم د هغه بنده او رسول دی، {اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ هغه چې تاسو یې له یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه نه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، او له دغو دواړو نه یې (په ځمکه کې) ډېر سړي او ښځې خواره کړل، او له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په (نامه) سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه (ووېرېږئ)، بېشکه الله پر تاسو باندې ښه ساتونکی (نګهبان) دی[النساء: 1] (اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! له الله نه ووېرېږئ، څنګه چې له هغه نه د وېرېدلو حق دی او تاسو مه مرئ مګر په داسې حال کې چې تاسو مسلمانان یئ) [آل عمران: ١٠٢] {اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او خبره کوئ ډېره سمه (درسته) خبره [٧٠] هغه به تاسو ته ستاسو عملونه سم (او صالح) کړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او هر څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، نو یقینًا دغه کامیاب شو، په ډېر لوی کامیابېدلو سره [الاحزاب: 70-71].

[صحیح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روایت کړی دی]

ابن مسعود رضي الله عنه خبر ورکوي چې رسول الله صلى الله علیه وسلم هغوی ته د حاجت خطبه ښودلې ده، او دا هغه خطبه ده چې په خطبو کې د خبرو په پیل او د معاملې په پیل کې وییل کیږي لکه: د نکاح خطبه، د جمعې خطبه او داسې نور، دا خطبه لویو معناوو ته شامله ده لکه دا چې؛ الله جل جلاله د هر ډول ستاینې مستحق دی، او یوازې له هغه څخه مرسته غوښتل کیږي چې شریک نه لري، په ګناهونو پرده اچول او بنده ته ترې تېریدل، او هغه ته له هر شر څخه پناه وړل، د نفس او نورو شرونو څخه. بیا رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل چې هدایت د الله جل جلاله په لاس کې دی، چا ته چې هدایت وکړي هغه لره ګمراه کوونکی نشته، او څوک یې چې ګمراه کړ نو هغه لره هدایت کوونکی نشته. بیا یې د توحید ګواهي ذکر کړه چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او په رسالت ګواهي چې محمد - صلى الله علیه وسلم - د الله بنده او د هغه رسول دی. او خطبه یې پدې درېو آیتونو سره پای ته ورسوله چې د الله جل جلاله د رضا دلاسته راوړلو په خاطر پکې د الله جل جلاله په تقوا او د هغه د اوامرو په پر ځای کولو او له نواهیو څخه یې په ځان ساتلو امر شوی او دا چې د هغه چا بدله چې دا کار یې وکړ د عملونو او ویناوو اصلاح، د ګناهونو بخښل، په دنیا کې پاکیزه ژوند او په قیامت کې د جنت ګټل دي.